# د ناول "جنګزاد" فني او فکري جائزه

## The technical and conceptual study of the novel ‘Jangzad’

Ijaz Ali [1]
Afzal Khan [2]

*Jangzad is a novel written in Pashto language by Mian Latif Shah Shahid . Besides this,Shahid has authored a number of books in urdu and Pashto. His books in Urdu and language are ‘Wehshat Ka safer’ ,Pyas Nager mein Pehli Barish, Khazan ke sat mein Gulshan mein Laut Awonga (a nazam).The books in Pashto language include, jobal sparlay,Da intizar pa salib(nazm) and Katmala (a short story). Mian Latif Shah Shahid is one of the finest poets, short story writers, Novelists and Critics.This research paper analyses the structural and thematic make-up of the novel Jangzad.*

"جنګزاد" ناول میا لطیف شاه شاهد لیکلے دے. چې په کال په ۲۰۱۷ء د مرکزي ادبي جرګې له خوا خور شوے دے.او د ۵۰۰ په شمېر کښې د پېښور په اعراف پرنټرز کښې چاپ شوے دے. په ناول باندې مېرمن سیده حسینه ګل سریزه لیکلې ده.لیکونکي میا لطیف شاه شاهد پرې خپلې خبرې لیکلي دي او بیا ناول پیل کېږي. ناول د شروع نه تر اخره بیانیه بڼه لري.او په پنځوسو بابونو وېشلے شوے دے. میا لطیف شاه شاهد پرته د "جنګزاد" ناول نه نور هم د اردو او پښتو د نظم او نثر کتابونه لیکلي دي. چې په کښې "وحشت کا سفر"،" پیاس نگر میں پہلی بارش"،"خزان کے ساتھ میں گلشن میں لوٹ آؤنگا" د اردو کتابونه دي "ژوبل سپرلے" ،"د انتظار په صلیب" ئې د پښتو شعري ټولګې دي او "کتماله" د پښتو افسانې چاپ کتاب دے

[1] Mphil scholar, Department of Pashtu, Abdul Wali Khan University, Mardan
[2] Mphil scholar, Department of Pashtu, Abdul Wali Khan University, Mardan

د ادب پوهان وائي چې ادب د ژوند تفسير او تصوير دے د ژوند دغه تصوير د چاپېر چل قيصې د تاريخ په اړه مالومات د سياست نن او پرون د ټولنې سماجي او کلتوري حالات د معيشت،سائنس،او مذهب بيلا بيلي قصې په ناول کښې ډېر په اسانه بيانيدے شي

ناول يو اوږد نثري صنف دے د ټولنې او ژوند مختلفې قصې او ګڼ رنګونه په ناول کښې ځائيدے شي

په ناول "جنګزاد" کښې دوه قصې مخ په وړاندې رواني وي يوه قصه د سرفراز او شبربانو ده چې چاپېريال ئې کابل دے او بله قصه د پاکستان ده چې د اسلام اباد نه په کوسټر کښې د پوهنتون د نباتاتو د څانګې هلکان او جينکۍ او دوه استاذان يو ډاکټر جمال او بله پروفېسر پروين ګل په مطالعاتي دوره وځي. دا دوره د اسلام اباد نه مري،ايبټ اباد ،مانسهرې،جهيل سيف الملوک،ناران کاغان،او بالاکوټ په لور وي او دوي بيا واپس خپل منزل ته رارسي.

ناول نګار دواړه قصې مخ په وړاندې رواني ساتي په يو وخت وړومبۍ قصه د لږ وخت دپاره پرېږدي او دويمه قصه اخري منزل ته ورسوي بيا د ناول قصه يو ډرامائي انداز ته مخامخ کړي او دواړه قصې د يو بل سره يو شي چې د لوستونکيو توقعات او خيالات ګډ وډ کړي.او دلته لوستونکي پوه شي چې د دې دواړو قصو د يو بل سره پيوستون څومره ښکلے او عجيبه دے د زرشال پلار د زرک هم پلار دے دا هغه لمحه ده چې لوستونکي په سوچ مجبوره کړي او د ناول ټول خدوخال په ډاګه شي.

قصه د افسانوي ادب لازمي عنصر دے.په ناول کښې مرکزي يوه قصه وي او نورې وړې وړې قصې هم د مرکزي قصې سره ملګرې وي چې د ناول په پلاټ کښې مرسته کوي او قصه روانه ساتي.د ناول د قصې په اړه احمد علي اسير داسې ليکي

"د ناول د کامیابۍ دپاره د قصې ښه والے ډېر ضروري دے که قصه ښۀ وي نو ناول په هم ښۀ وي او که قصه خرابه وي نو ناول به هم غېر معیاري وي"١

د ناول د لویې قصې سره وړې قصې هم ناول نګار ملګرې کړې وي چې د ناول په قصه کښې شدت او تاثر پیدا کوي او د قصې مخ په وړاندې تللو کښې هم خپل کردار ادا کوي.

د جنګزاد ناول قصه ډېره په زړۀ پورې ده لیکونکے په یو وخت دوه قصې بیانوي. او په اخره کښې دا دواړه قصې په یو بل کښې ضم شي او یوه قصه ترې جوړه شي.ناول نګار قصه ډېر په مهارت بیان کړې ده.او په قصه کښې ئې دومره خوند او اثر دے چې لوستونکي ناقراره ساتي او ځان پرې لولي. د جنګزاد ناول د قصې په اړه د ناول په سریزه کښې سیده حسینه ګل داسې لیکي

"په ناول کښې دوه ساده قصې د یو بل سره رواني وي لیکوال د ډېرو کردارونو نه ډډه کړې ده چې یو د ستائنې وړ خبره ده ځکه چې ناول کښې ډېرې قصې او ګڼ کردارونه د ناول مرکزي قصې ته تاوان رسوي"٢

پلاټ د ناول په فني توکو کښې مهم کردار لري.په اصطلاح کښې د پلاټ معنی ٰد واقعاتو ترتیب او تړون ته وائي.چې ناول نګار د پلاټ په جوړېدو پوه وي او د واقعاتو ترتیب مناسب وکړي نو ناول به کامیاب وي.په ناول کښې پلاټ لوے اهمیت لري.او لکه د ملا د تیر په حېث وي. د ناول د پلاټ په اړه بي بي مریم داسې لیکي

"د ناول پلاټ د قصې ترتیب سره تعلق لري.پلاټ جوړول یو قسم له فن تعمیر دے د قصې په ځاے زیات تر هم د پلاټ په وجه ناول د فنکارۍ په فن کښې شاملېږي د ناول د فنکارۍ وړومبے ثبوت د پلاټ ښۀ ترتیب دے"٣

د ناول "جنګزاد" پلاټ کوټلے او مربوط دے.ناول نګار ټول واقعات په ډېره فنکارۍ د یو بل سره تړلي دي.او قصه ئې د پېل نه تر پایه په هنري تکنیکي انداز بیان کړې ده.ناول نګار قصه د پلاټ په سانچه کښې په مهارت سره اچولې ده.او په یو ځائے کښې هم څۀ نیمګړتیا نۀ محسوسیږي او نه په لوستونکیو بوج کېږي.ټول واقعات ئې فطري ښکاري. په ناول کښې داسې څۀ خبره یا واقعه نشته چې د پلاټ په تنه بوج وي.

کردار نګاري هم د ناول په اجزاؤ کښې شامل توکے دے.د ناول قصه چې د کومو وګړو په ذریعه ترسره کېږي دغه وګړي د ناول کردارونه وي.او دې کردارونو جوړولو ته کردارنګاري وائي د کردار نګارۍ په اړه ډاکټر محمد اعظم اعظم داسې لیکي

"د ادب په اصطلاح کښې کردار نګاري هغې فن یا هنر ته وائي کوم چې په یوه قصه (ناول،ډرامه، داستان) کښې د کردارونو د اعمالو تهذیب او ترتیب او افرادو د سیرتونو او اطوارو د ذهني او نفسیاتي تنظیم دپاره استعمالیږي د شعر و ادب هغه اصناف کوم چې په قصه باندې اډانه لري په هغې کښې د کردارونو وجود لازمي عنصر دے"۴

د ناول قصه زمونږ د امروزه ژوند نه اخستې شوې وي.او د دې کردارونه هم زمونږ د ټولنې ژوندي کردارونه وي.د "جنګزاد" ناول ټول کردارونه سر فراز،شېربانو،زرک،زرشال،شهاب،مسکا،ډاکټر جمال،پروفېسر پروین ګل او نور ټول کردارونه لیکونکي میا لطیف شاه شاهد ډېر په غور او فکر جوړ کړې دي د کردارونو کړۀ وړه او خبرې اترې هو بهو هغه رنګ دي څنګه چې پکار وې. داسې نۀ ده چې کردار په شروع کښې یو شان دے او بیا د هغه خبرې د کردار د شخصیت متضاد دي. بلکې ټول کردارونه ئې په تول پوره دي او د معیاري کردار نګارۍ غوره نمونې دي.د کردارونو خصوصیات چې په شروع کښې څنګه دي نو د ناول د ختمېدو پورې هم هغه شان دي.

مکالمه نګاري د ناول بل توکے دے د ناول د کردارونو تر مینځ خبرو اترو ته مکالمه وائي.کله چې په ناول د کردارونو تر مینځ خبرې اترې کېږي نو مونږ ته د کردارونو د مزاج عادتونو او خویونو پته لګي. د کردارونو د مکالمو سره پلاټ مخ په وړاندې روان وي. د مکالمو نه مونږ ته د کردارونو جذبات،خیالات او احساسات هم ښکاره کېږي.

جنګزاد ناول بیانیه ناول دے باقاعده مکالمې په کښې نشته خو لیکونکي د راوي په ذریعه د کردارونو تر مینځ مکالمې وړاندې کړې دي.ناول نګار د مکالمو په هنر ډېر پوه دے ځکه چې کله د دوؤ کردارونو تر مینځ مکالمه کېږي نو د کردار لهجه د کردار چاپېریال او د اوسېدو ځاے ښائي لهجه د مخصوص علاقې وي.ځیني توري داسې وي چې په خاص علاقو کښې وئېل کېږي. په "جنګزاد" ناول کښې لیکونکي د مکالمې په وخت د لهجې هم خیال ساتلے دے او مکالمې ئې د کمال تر حده ښائسته کړې دي لکه د ناول کردار شېربانو چې د کابل اوسېدونکې ده نو د شېربانو مکالمې هم د هغوي په لهجه کښې رنګ دي.د نمونې په توګه ئې دا مکالمې وګورئ

"نو بیا واوره چې ما تر اوسه وادۀ نۀ دے کړے خپل پېغور درسره واخله"۵

دا مکالمه ئې هم غوره مثال دے

"زما دې په هغه ذات قسم وي چې د ساګانو مالک دے چې زرک د تا اولاد دے.اوس به تاله معلومه شوې وي"۶

د ناول "جنګزاد" ټولې مکالمې د کردار د علم،پوهې،جنس او عمر په حواله سمې دي د ناول شائسته مکالمو د ناول خوند نور هم سیوا کړے دے

منظر نګاري هم د ناول د فن یو جز دے د ناول د واقعاتو ځاے او وخت بیانولو ته منظر نګاري وائي.منظر نګاري د ناول دپاره لازمي ده ځکه چې د ناول قصه د منظر

نګارۍ سره نوره هم په زړهٔ پورې شي او لوستونکي کردارونو ته د راغلي واقعاتو د تفصیل نه خبر شي.چې واقعات چرته او څنګه رامخې ته شو. د منظر نګارۍ په اړه نثار احمد اریا داسې لیکي

"که په ناول کښې منظرنګاري په هنري ډول وکړے شي نو ناول ژوندے تصویر پیداکوي. کله نا کله دا منظر نګاري دومره هنري وي چې لوستونکې ته د ناول پېښې د خپل ژوند یو ریښتونے تصویر ښکاري"۷

میا لطیف شاه شاهد په ناول "جنګزاد" کښې وخت په وخت منظرنګاري کړې ده "جنګزاد" ناول د سفرنامې یا رپورتاژ خوارہ هم لري نو ځکه ئې د منظرنګارۍ په وخت د ځایونو او وختونو تفصیل فرضي یا تخیلاتي نهٔ دي بلکې حقیقي دي. لیکونکي په خپل اصلي حالت کښې د کلیو ،ښارونو ،ځنګلونو او ودانو ذکر کړے دے په دې اړه سیده حسینه ګل داسې لیکي

"دا ناول د سفر نامې خوند هم لري بنده ئې چې لوستل پېل کړي نو د ناول خوند او رنګ خو په کښې په ابتداء کښې وي ولې بیا د ناول وجود په یوه مکمله سفرنامه یا رپورتاژ کښې ورک شي او لوستونکے دا فکر لري چې شائد لیکونکي په یو غشي دوه ښکاره کول غوښتلي دي خو څنګه څنګه چې د دې رپورتاژ تاثر او خوند سیوا کېږي د مقاماتو یوه بېخي صحیح او رښتوني جغرافیه د لوستونکي تر سترګو کوي د هر ځاے د حقیقي منظرونو نظارې د لوستونکي تر خیاله رسوي"۸

د "جنګزاد" ناول نه د منظر نګارۍ د نمونې په توګه دا ټوټې وګورئ

"شمله غر د ښار په مینځ کښې یو وړوکے غر دے چې په سر ئې یو ښکلے پارک جوړ دے په دې باغ کښې یوه ښکلې باغیچه او ریستوران دے خلق د ایبټ اباد ښار ننداري ته دې غر ته خېژي. یو ښکلے پوخ سړک د ښکته نه پورته د دې غر تر سره ځي. د هغو ګاډے چې د غرهٔ په سر ودرېدو نو د ماښام تروږمۍ خوره شوې وه باغیچه او پارک د وړو زړو او

زلمو نه ډک وؤ د ریستوران سره بهر په باغیچه کښې کرسۍ لګېدلې وې هغه ټول په کرسو کښېناستۀ او د چایو سره ئې د شامي کبابو وېنا وکړه. د غرۀ چاپېره د ښار ننداره کېده . دا صفا سوتره ښار د دوه نیم درې لکه خلقو ښار دے چې یو افسر سر ایبټ، اباد کړے وؤ"۹

دا ئې هم غوره نمونه ده

"د مانسهرې نه چاپېره واړه واړه غرونه دي د ښار بازار ئې ډېر لاے خو نۀ دے خو د ضرورت ټول خیزونه په کښې ترلاسه کېدے شي. خلق ئې زیات پښتانه دي او پښتو وائي. په دکانونو کښې وچه مېوه په دلو دلو پرته وه"۱۰

په ناول "جنګزاد" کښې د موقعې او ماحول سره سمه منظرنګاري کړے شوې ده.او لیکونکي ټول منظرونه په ادبي ژبه ډېر په ښکلي انداز بیان کړې دي."جنګزاد" ناول کښې د منظرنګارۍ غوره بېلګې ترسترګو کېږي

تصادم هم د ناول دفن جز دے په ناول کښې د کردارونو ترمېنځ داسې پېښه کېدل چې د ناول ټوله قصه ورسره بل رنګ واخلي.تصادم بللے شي.څۀ خاص واقعه کېدل د کومې په وجه چې د ناول په قصه کښې نور پړاوؤنه راشي.یا د ناول د قصې شکل بل رنګ واخلي او بدل شي. په ناول "جنګزاد" کښې تصادم هغه وخت رامخې ته شي چې کله زرک خپله مور د زرشال کور ته بوځي په دې غرض چې د زرک مور زرشال ووینې او د زرشال پلار زرک ووینې خو کله چې د زرشال په کور کښې د زرک مور شېربانو او د زرشال پلار سرفراز ناګهانه یو بل ووینې نو د ناول قصه بل رنګ واخلي ځکه چې زرک خو خپله مور دلته د رشتې کولو دپاره راوستې وي خو ولې دلته په راتلو دا رشته د همېش لپاره ختمه شي. او هغه ځکه چې سرفراز د زرک پلار وي او دغه رنګ زرشال

د زرک خور وي. شېربانو اګر چې د سرفراز ښځه نه وي پاتې شوې خو ولې د پغمان د هوټل په بنده کمره کښې د شېر بانو او سرفراز د هوس د سرکشو جذبو له وجې د شېربانو په ګېډه کښې د زرک وجود جوړ کړے وي.

د ناول بل توکے وحدت زمان او مکان دے په قصه ایز ادب کښې د وحدت زمان او مکان نه مراد دا وي چې د قصې واقعات کله او چرته شوې دي یعنې وخت او ځاے ئې کوم یو دے. د "جنګزاد" ناول د وحدت زمان او مکان درک په اسانه معلومېږي.ځکه چې لیکونکي د قصې د غوښتنو سره سم د واقعاتو ځاے او وخت ښودلې دي.لیکونکي د ناول قصې له د سفرنامې د رنګ سره سره تاریخي واقعات هم ګډ کړې دي چې د دې نه مونږ ته د وحدت زمان او مکان پته لګي. د "جنګزاد د وحدت زمان او مکان اندازه د ناول د دې ټوټې نه معلومېږي

"دا د ۱۹۷۸ء د کال د اپرېل ورځې شپې وې. د کابل سیاسي حالات کړکېچن وو او ورځ تر ورځه نور نور خرابېدۀ.د افغان حکومت او صدر داؤد برخلاف انقلابي ډلو"خلق" او "پرچم" اتحاد کړے وو او دواړه ډلې سره په یو مرکز ولاړې وې. هره ورځ په کابل ښار او په خصوصیت سره په کابل پوهنتون کښې جرګو مرکو او جلسو جلوسونو زور ورکړے وو"۱۱

د ناول د دې ټوټې نه ښکاره د وحدت زمان او مکان درک معلومیږي.

ژبه او اسلوب د ناول بل فني توکے دے.ناول اوږد نثري صنف دے.او د دې اوږدې قصې دپاره د ناول ژبه سوچه،ساده،اسانه او روانه پکار وي.چې لوستونکي ئې په مینه ولولي او بوج کېږي پرې نه.د ناول دپاره ژبه او اسلوب مناسب،ښکلے او معیاري

پکار وي.ځکه چې که د قصې د بیانولو ژبه او اسلوب ښائسته وي نو د لوستونکیو پام ځان ته ګرځوي او اثر ئې هم ډېر وي.د ناول د ژبې او اسلوب په اړه احمد علي اسیر داسې لیکي

"د افسانوي ادب په هغه ټولو اصنافو ډرامه،افسانه او ناول کښې د ژبې او بیان خاص خیال ساتلے شي چې په قصې اډانه لري.د یوې ښې قصې دپاره ضروري ده چې هغه دې په ښۀ ژبه بیان شي.قصې که ډېره هم خوږه او خوندوره وي خو چې د ژبې او بیان انداز ئې ښۀ نۀ وي نو ټوله قصه به بې خونده شي"۱۲

ناول نګار له پکار وي چې په محاورو،تشبیهاتو،استعارو،کنایو،تمثیلاتو او متلونو په استعمال د ناول قصه ښائسته کړي.د "جنګزاد" ناول ژبه او اسلوب ډېر د ستائیلو دي لیکونکے د ژبې او اسلوب د نزاکتونو نه پوره پوره خبر دے.او د ناول قصه ئې په ساده او سوچه ژبه کښې د لیکلو سره سره په ناشونو ترکیبونو او تمثیلاتو ډېره ښکلي کړې ده د ناول ژبه ئې ادبي ده او اسلوب ئې هم معیاري دے

د نمونې په توګه ئې څو مثالونه وګورئ

"زرشال د پیازي جوړې دپاسه په الواني شال کښې په رښتیا زرشال ښکارېده"

"بیا ئې په پردې غوندې اواز کښې زرشال ته اووې"

"د سړک په غاړه ولاړ دنګ چینار هغه ته لکه د ځان غوندې یواځې او د چا په انتظار ښکاره شو"

"دکشمیر پوائنټ په سړک دوه سترې سیورې سره داسې روان وو لکه د دریاب دوه غاړې چې تر اخره یو ځاے وي خو تر مینځه ئې د عمرونو فاصلې وي"

دواړه داسې غلي ناست وو لکه چې په یو دېوال دوه نقشونه خوا په خوا جوړ وي"۱۳

تلوسه هم د ناول د فن يو مهم جز دے. ناول نګار لوستونکي په تجسس کښې ساتي او په قصه کښې څۀ خاص خبره پټه ساتي. لوستونکي د خپلو توقعاتو پوره کولو دپاره ناول وړاندې ګوري.دې ته تلوسه وائي.په "جنګزاد" ناول کښې تر اخره تلوسه موجوده ده که يو طرفته د سرفراز او شېر بانو بيا يو ځاے کېدل د لوستونکي په ذهن کښې وي.نو بل طرفته د زرک او زرشال وادۀ هم د لوستونکيو دپاره يوه د دلچسپۍ او حېرانۍ خبره وي.چې ايا دا وادۀ به وشي او که نا.ځکه چې اول خو د زرک زړۀ لکه د کاڼي سخت وي نو د زرک او زرشال يو ځاے کېدل او وادۀ کېدل ګران وي.او چې کله زرک د زرشال په لېونۍ مينه مخمور شي نو اوس دا خبره چې د زرشال پلار لوے سرمايه دار دے او زرک ډېر غريب دے.نو د زرشال په خوښه به د هغې پلار رضا شي او که نا انکار به کوي.دا ټولې هغه خبرې دي چې لوستونکي نا قلاره ساتي. نو داسې په ناول کښې تر اخره تلوسه موجوده ده کومه چې د ناول په کاميابۍ کښې لوے لاس لري.

مفکوره/فلسفه حيات هم د ناول په فني توکو کښې شمېرلے شي.د ژوند په اړه د ناول نګار مخصوصه نظريه چې ليکونکے ئې په ناول کښې د کردارونو په ژبه بيانوي دې ته مفکوره وائي.په ناول "جنګزاد" کښې ليکونکي ميا لطيف شاه شاهد هم خپله مفکوره او د ژوند فلسفه بيان کړې ده چې هغه د طبقاتي نظام په ضد مبارزه ده.د غم زپلو او مظلومو افغانانو غم ژړل دي.د امن سره مينه ده. او د جنګ څخه نفرت دے.خپل قام له سياسي شعور ورکول هم د ناول مفکوره ده.پښتون قام د خپل تاريخ نه خبرول هم د ليکونکي موضوع ده.ليکونکي د ملکي سياسي واقعاتو سره سره د

نړیوال سیاسي واقعاتو یو تصویر هم وړاندې کړے دے.د کابل وینې وینې حالات ئې ژړلي دي.او د جنګ او بد امنۍ له وجې ئې اولس ته د راپېښو ستونزو ذکر کړے دے.

ناول "جنګزاد" په موضوعاتي اړه ډېر اهمیت او ارزښت لري.دا ناول د سفرنامې رنګ لري. نو په ناول کښې د ځایونو متعلق معلومات موجود دي.او بل دا ناول تاریخي ځرکونه هم لري نو تاریخي پېښې د کابل انقلاب د امریکې د یوولسم ستمبر پېښه او دغه رنګ نورې هم په دې ناول کښې بیان شوې دي.په ناول کښې د سرمایه دارانه نظام په کلکه غندنه شوې ده.د افغان وطن د بربادۍ تصویر په کښې وړاندې شوے دے.او دغه رنګ ئې د افغان وطن بربادي او د اولس بې وزلې په کښې ژړلې شوې ده.د قامي او نړیوال سیاست په اړه هم په ناول کښې ځاے په ځاے خبره شوې ده.پښتون قام په سیاسي شعور ورکړے شوے دے.د جنګ ځخه ډډه او د امن سره مینه هم د ناول ښکاره موضوع ده.د ناول فن د ستائیلو دے.او په فکري حواله هم جدت او ارزښت لري."جنګزاد"ناول د سفر نامې خوند او د تاریخ د خوږو سره سره د رومان او منیې په قصو باندې مشتمل یو معیاري ناول دے.

## ماخذونه


۱۔احمد علي اسير،پښتو ناول او ناولونه،پېښور،يونيورستي پبلشرز،۲۰۱۳ء،مخ ۲۷

۲۔ميا لطيف شاه شاهد،جنګزاد،پېښور،اعراف پرنټرز،۲۰۱۷ء،مخ ۳

۳= بي بي مريم،د پښتو ناول يوه تجزياتي مطالعه،پېښور،فاسټ ترېک کميونيکېشن،مخ ۱۰۹

۴= ډاکټر محمد اعظم اعظم،پښتو ادب کښې کردار نګاري،لاهور،ملت پرنټرز،۱۹۹۳ء وړومبے چاپ،مخ ۲۸

۵= جنګزاد،محوله بالا،مخ ۱۸۳

۶=جنګزاد،محوله بالا،مخ ۱۸۵

۷=نثار احمد اريا،د ناول ليکني تيوري،کابل،سروش کتاب پلورنځا ے،۲۰۱۹ء،وړومبے چاپ،مخ ۱۴۳

۸= جنګزاد،محوله بالا،مخ ۱

۹=هم دغه اثر،مخ ۷۳

۱۰=هم دغه اثر،مخ ۸۷

۱۱=هم دغه اثر،مخ۱۲

۱۲=پښتو ناول او ناولونه،محوله بالا،مخ ۳۶

۱۳=جنګزاد،محوله بالا،مخونه ۲۳، ۲۲، ۴۰، ۳۰، ۲۷